ادارهٔ کابل ۲۰ تن ازاسراء گروهٔ طالبان رآآزاد ساخت

کابل - ۲۹ جوزا :

اداره کابل بیست تن ازافراد گروه طالبان را که اسیرنموده بودند رها نمود . این اسراء ساعت یازده قبل ازظهرامروز از طرف وزارت سرحدات اداره کابل به آقاي شیراني یکتن ازمیانجیگران پاکستاني تسلیم گردیدکه سپس اسراء با آقاي شیراني به طرف ولایت لوگرحرکت کردند .

درخبرآمده است درنظربود مولوي شیراني بعدازمذاکرات باگروه طالبان دوباره وارد کابل گرددولي بنابر وجوهي بازگشت وي به کابل معطل گردید .

صدیق چکري یك تن ازوابستگان اداره کابل درمورد رهایي اسراء گروه طالبان به خبرنگاران گفت دولت کابل بیست تن ازاسراء گروه طالبان رابه مولانا شیراني سپردونامبرده به منظورتمدیدآتش بس رسمي واپس به کابل برمیگردد .

وي افزودکه دولت وطالبان عنقریب تصمیم نهایي خودرا اعلان خواهند کرد.

(٤) صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

دوردگوپه ولایت کي طالبانودسیاف یوستراتیژیك مرکزونیو

وردگ میدان - غبرگولي ۲۹ :

دوردگو اومیدان ولایت څخه راورسیدلي رپوټونه وایي چي څوورځي مخکي طالبانودنوموړي ولایت دبندچك ولسوالي دتنګي سیدانوپه سیمه کي دسیاف دولي یوستراتیژیك مرکزونیواودنوموړي مرکزمسئولین له سیمي څخه په تیښته بریالي شول.

خبرځاي لیکي چي دمرکز په نیولو کي دسیاف ځینوپلویانودطالبانوسره مرسته کړي او دکابل اداري له پلوي سیاف څخه ئي خپله کرکه اونفرت څرګندکړي دي .

شمارهٔ مسلسل (۹٤۹)سال هژدهم - شمارهٔ (۳۵) سهٔ شنبه (۳۰) جوزاي ۱۳۷٤هـ ش - (۲۲)محرم الحرام ۱٤۱۵هـ ق - (۲۰)جون ۱۹۹۵م

قیمت (۲۰۰)افغاني - (۲) روپیه)

دکابل اداری له هندڅخه (۱۵) نوی جنګی الوتکی ترلاسه کړی

اسلام آباد - غبرگولي ۲۹ :

دپاکستان دمطبوعاتوپه یوه خبر کي راغلي چي پدي وروستیو کي دکابل اداري دځیلو مخالفینودځپلولو پاره له هندسره نوي نظامي قراردادونه لاسلیك کړي اودهغي په نتیجه کي ئي له هند څخه ۱۵ نوي جنګي الوتکي ترلاسه کړي دي .

دنوموړي ورځپاڼي په خبرکي زیاته شوي چي دنوموړو الوتکوپول کارکونکي هندوان دي اوله هند څخه ئي له الوتکو سره په زیاته اندازه فالتوپرزي اوسامان الات راوړي دي .

دیوه بل خبرله مخي ویل کیږي چي دکابل اداري له هندوانوسره ځیني نوري لوژنامي هم لاسلیك کړي خودهغوي دنتائجو په باب تراوسه کوم رپوټ ندي ترلاسه شوي .

جنرال یوسف سخنگوي جنبش ملي

ادعاهای رادیوی ادارهٔ ائتلافی عاری ازحقیقت است

۲۹ جوزا :

جنرال یوسف سخنگوي جنبش ملي افغانستان درباره وضع اخیر درولایات سمت شمال وادعاهاي اداره کابل اظهارداشت مادررابطه باادعاهاي دیشب اداره کابل میتوانیم بگوئیم که این به سلسله همان دروغ هاي است که قبلاً هم به ملت گفته اند وحال هم میخواهند که ذهنیت هارامغشوش نموده وملت مسلمان مارافریب دهند وبااین دروغ هابهره برداري سیاسي نمایند.

جنرال یوسف اظهارداشت که نیروهاي شوراي هماهنگي درسالنگهاهیچ یك ازمواضع خودرا ازدست نداده است بلکه جنگجویان متعرض راچندین کیلومتربه عقب رانده است که برتعهدات جدید خودوفانه کرده وتعرض راآغازکردند که درنتیجه تعرضات ایشان نیروهاي زیاد خودرا تلف داده وچندین کیلومترعقب نشیني نموده و به اندازه کافي اسلحه ومهمات ایشان به تصرف نیروهاي شوراي عالي هماهنگي درآمد .

جنرال یوسف افزود درولایت سمنگان همچنان به استقامت ولسوالي روي دوآب باتعرض دشمن مقابله نموده وتلفات سنگیني رابه آنان وارد نمودیم

ص (۳)

یك حمله نیروهاى ادارهٔ کابل دربامیان به شکست مواجه گردید

بامیان - ۲۹ جوزا :

درگیري شدید میان نیروهاي شوراي عالي هماهنگي وجنگجویان اداره کابل درولایت بامیان ادامه دارد .

درین درگیري مجاهدین حزب وحدت اسلامي افغانستان به پیروزي هاي چشمگیري نایل گردیده وتعدادي ازمواضع جنگجویان اداره کابل رابه تصرف خویش درآورده اند .

این حمله که ازروزیکشنبه آغازگردید،شدیدترین درگیري میباشدکه اخیراً مشتعل گردیده است .

درگزارش آمده است جنگ هنگامي آغازشدکه جنگجویان اداره کابل تهاجم بزرگي رابالاي مواضع نیروهاي شوراي عالي هماهنگي آغاز نمودند که درنتیجه جنگجویان اداره کابل نه تنها به عقب نشیني مجبورگردیدند بلکه چندموضع شان رانیزازدست داده افراد زیاد آنهاکشته ویازخمي گردیدند .

درخبرآمده است که درین نبرد چندتن ازنیروهاي شوراي عالي هماهنگي نیز جراحت برداشته اند.

گزارش مي افزاید که ازاثر انداخت سلاح ثقیل نیروهاي اداره کابل خسارات مالي زیادي به اهالي بي دفاع منطقه نیز وارد گردیده است .

حکومت پاکستان درنظردارد کمپ هاي مهاجرین افغاني رامسدودسازد

گوټته - ۲۹ جوزا :

حکومت پاکستان درنظردارد کمپ هاي مهاجرین افغاني راببندد.

قرارگزارش مطبوعات پاکستاني حکومت پاکستان بنابرقطع مواد امدادي ازطرف سازمان ملل متحد به مهاجرین افغاني هشدارداده است که کمپ هاي مهاجرین راسرازتاریخ اول اکتوبرسال جاري میلادي مسدود خواهند نمود.

درگزارش آمده است که بنابرفیصله حکومت پاکستان مسئولین اداري مهاجرین لست فامیل هاي مهاجرینی راترتیب نموده که به آنهاکرایه وسفریهٔ برگشت به وطن ازطرف اداره امدادي سازمان ملل متحد تادیه میگردد ، مگر این خبرتاکنون ازجانب کدام منبع موثق تائید نشده است.

دکابل اداری ځواکونوپغمان په ولسوالی کی یوله بل څخه (۲۰) کسه ووژل

کابل - غبرگولي ۲۹ :

دکابل ولایت له پغمان ولسوالي څخه راغلي عیني شاهدان وایي چي څوورځي مخکي دکابل اداري ته دوفادارسیاف دځواکونوترمنځ په یوه خونړي نښته کي لږترلږه ۲۰ کسه مړه اوګڼ شمیرنورژوبل شول .

شاهدان وایي چي جګړه هغه وخت تنده شوه کله چي دنظارشورا پلویانودجګړه کونکوارخونونه دیوه اړخ سره دژيني مخالفت په اړه په جګړه کي برخه واخسته .

دشاهدانو له خولي دجګړي داصلي علت په باب څه نوي ویل شوي .

درولایت کندزوبغلان خسارات وتلفات زیادي به جنگجویان ادارهٔ کابل واردگردید

کندز - ۲۹ جوزا :

درگیري هاي شدیدمیان نیروهاي اداره کابل ونیروهاي شوراي عالي هماهنگي درولایت کندزادامه دارد .

گزارش هاي رسیده ازآن ولایت حاکیست که طي دوهفته گذشته نبردهاي پراگنده میان نیروهاي شوراي عالي هماهنگي وجنگجویان اداره کابل همچنان ادامه دارد .

درین نبردهاتعداد زیادي ازافراد اداره کابل هلاك ویامجروح گردیده اند وتعداد دیگري ازافراد آنهازنده دستگیرشده اند .

درگزارش آمده است که درین نبرداداره کابل ازطیارات جنگي نیز استفاده کرده که درنتیجه بمباران هوایي اداره کابل تعدادي ازاهالي منطقه شهیدویامجروح گردیده وخسارات مالي زیادي نیز به آنان وارد گردید .

قراراین گزارش نبرد درمناطق دوردست خنجان ودرسالنگ شمالي نیز

ص (۲)

بیام خاتمیکي اداره بیوز شهادت پارمولت

سرمقاله

دمجاهد ملت مرګوني حالت اودرباني دوه مخي پالیسي

دافسوس ځاي دادي ، چي که دړباني اوملګرو پرځاي شاه شجاع هم وي ، نوشرم به ورغلي وي . دهیواد له مرګاني وضعیت اودشهیدانو له وینو نه به بي حیاکړي وي . اوهیڅکله به بي دومره وینو تږیو لو اودپښمن ولس پربرخلیك لوبوته غاړنه وي ایښي ،رباني اومسعود پر واکمني د دومره بلاجوازه ټینګارسره دجهاد اوملت نه بلکي دنړیوال کفر دهغه چلتد ټما بندګي کوي ، چي داسلام اومسلمانانو پر ضد يي په اسلامي نړۍ کي چلوي ، اوهمدغسي غیرقانوني تش په نامه حکومتونه يي ورته استخدام کړیدي ، چي ځرګندي بیلګي يي معصر اوځیني نورکیدي شي .خود تعجب خبره داده ،چي اخر له رباني اوملګرو سره يي هم دیوه پاځبدلي فاتح ولس په وړاندي د خپل عاقبت ،انجام اوتاریخ پوښتنه شته اوکه نه؟ که رباني دا وایي ،چي ددي حالاتو پره دبل ده ، نو پخپله خو دي مهرباني وکړي اوکه اصلاح نه وي . نو ددغي فساد پرځاي دي کټ مټ له صحني ووځي ،پریده ،چي د دوي پخوله دمشرتابه انحلالرامنځ ته شي ، خو دوي دي خپل نامبارك سیوري دملت له سره کم کړي . که رباني اوملګري يي پوهیږي نو خبره ترې نوره لیونتوب اوسیاسي حماقت ته رسیدلي ، او هرڅه چي دومره مبتذل اوبیکاره شي . دفطرت داصولو له مخي خپل ځاي تخلیه کوي . زمونږ هیواد وال خبرشول ،چي درباني اوطالبانو ترمنځ دپاکستان دمولاتامحمد خان شیراني په وساطت وړندي وشوه ، که څه هم دا وږ بند لس ورځني اودبندیانو د تبادلي لپاره دي ، خو دمنځګري مولانا په وینا تمدیدي هم شي . مونږ جنګ اوجګړه دمجاهدملت په تاوان ګڼو ، او دلته دوه صورته مطرح دي، رومبي دا چي ایتلافي حکومت توده اوسره دواړه کوي له یوي خوا دجنګ لارخپسي ، او له بل اړخه دمذاکراتو. دسیاسي کتونکو په خیال له دي هلو ځلو نه درباني هدف دادي چي طالبان دهماهنګي له شورا لیري وساتي ، ترڅو ددوي پر ضد دا سنګر نور هم پیاوړي نشي . له دي کبله ایتلاف په هیڅ ترون ایمان نه لري ، او دغه چلندیي هم منافقانه اودخپل سیاسي غرض لپاره دي ، اوکه لږ فرصت په لاس ورشي ، نو بیا به يي د سرغړاوي اوجنګ په سمندر لاهو کړي . خو ترڅو چي دافغانستان فلاح اوسکون پښتیز هدف نیسي ، تر هغي پوري له رباني اوملګرو سره يي دروغي جوړي دخبرو هیڅ ګټه نشته ،خو له دوي سره په محاذ آرایي کي دملت خیر دادي ، چي که نورڅه نه وي ،ترفشار لاندي خو به وساتل شي . دیړي بل لوري طالبان که رښتیا هم له ایتلافي رژیم سره خپل اوربند تمدید کړي ، نو دا به بي بوه لويه سهوه وي . ځکه له رباني سره هیڅ قانوني جواز او ملي فارمول نشته ، چي خبري پري ورسره وشي ، او که پدي لار کي هر ټوښیت رامنځ ته کیږي ،د رباني له استحکام اومتلو پرته بله هیڅ معنا نلري . همدا سي طالبانو چي په کوم مرام سراپورته کړي، او مجاهد ملت پري خبر دي ، نو له ایتلافي اداري سره يي پوځلا کیدل دتسلیمیدلو په مانا دي ، او چي خبره داسي شي ، نو بیا څه ارتیا وه ،چي یو بل نامطلوب جنګ پرافغانانو وزغمل شو ، په دصورت طالبان باید خپل دي عمل ته ډیر دورواندیشه او په تامل وګوري ، ځکه رباني او اداره يي له خپل ګرد هویت سره ملت ته افشا ده . رباني پدي وروستیو کي په ازبکستان نور ولګاوه ، چي جنبش ته يي افغاني چاپ کړیدي . خو هغه دچا خبره : دیو بابا له اصله نه اصیله زه کم اصله "له رباني نه رومبني پوښتنه داده ،چي نه کوم قانوني حیثیت لري ، چي ځان درته پاچا سکاري ، نه انتخابي يي که انتصابي ! اودانه چي دکي وکي الوتکي افغاني واردوي ،او په روس اوهند کي درته چا پیږي . مجاهد ملت دي له یو فاحش انقلاسیون سره لاس وګریوان کړیدي ، اوددغي پولي تورم بله هیڅ لار نشته ، چي په یوه اعلان

مولوي عبدالباقي ترکستاني په یوي رادیویي مرکه کي :

جوزجان، سمنګان اوبامیان ولایتونه دهماهنګي شورا دځواکونوتربشپړ کنترول لاندی دی

دغبرگولي ۲۸ :

دجوزجان په ولایت کي اصلاً جمعیت هیڅوك نلري بلکي دکوهستان په سیموکي چي دکابل اداري څه ځواکونه ځاي پرځاي شوي وو هغه سیمي هم اوس په بشپړه توګه پاکي شوي دي اودکابل اداري پلویان دغورپه لورتښتیدلي دي .

داخبري په اسلام آباد کي دجنبش ملي استازي مولوي عبدالباقي ترکستاني له بي بي سي سره دیوي مرکي په ترڅ کي وکړي .

ترکستاني وویل مونږ ته چي همدااوس کومه مخابره شوي په هغي کي ویل شوي چي اوس په سالنګ کي خونړي جګړه روانه ده اودکابل اداري دوه هلیکوپترونه دهماهنګي عالي شورا

دسالنګ په جګړوکي دکابل اداري (۲) هلیکوپترونه راپرېوتل

ویاړمنوځواکونوراغورځولي .

مولوي صاحب عبدالباقي زیاته کړه اوس دسمنګان اوبامیانوولایتونه په بشپړه توګه دکابل اداري له ځواکونوڅخه پاك شوي اوهم دانن په سالنګ کي زمونږ ځواکونو دکابل داداري له پلویانو څخه ١٤ پوستي نیولي دي .

سردارآصف علي افغانستان ته سفرکوي

اسلام آباد - غبرگولي ۲۹ مه :

دترلاسه شویو خبرونوله مخي ویل کیږي چي دبرژیه دپاکستان دبهرنیوچارو وزیر محترم سردارآصف علي دیوه هیئت په مشري افغانستان ته سفروکړي .

ویل کیږي چي محترم آصف علي به په افغانستان کي دروان جنجال دحل وفصل کولو لپه اړه دبیلابیلو اړخونوسره وګوري اودافغانستان درواني ستونزي دیوه سوچه حل په اړه به ورسره هراړخیزي خبري وکړي .

دناځاپي وژوله امله :

په مزارشریف کی دسره صلیب یومامورسخت ټپی شو

مزارشریف - غبرګولي ۲۹ :

له مزارشریف څخه په رارسیدلوړپوټونوکي ویل کیږي چي ورمه ورځ په مزارشریف کي دسره صلیب یومامور چي دیندیانوخوشي کولو اودبندیانوسره دهغوي دکورنیو دریم مخ

صدهافلسطیني در زندانهاي رژیم صهیونستي دست به اعتصاب غذازدند

تل ابیب - ۲۹ جوزا :

صدهافلسطیني زنداني دریك زندان رژیم صهیونیست درساحل اشغالي نوارغزه دست به اعتصاب غذا زده اند .

این اعتصاب آنهابخشي ازیك مبارزه براي آزادي هزاران فلسطیني زنداني درزندان هاوتوقیف خانه هاي رژیم اسرائیل میباشد .

سازمان آزادي بخش فلسطیني میگویدآزادي زندانیان فلسطیني یکي ازشروط پیمان صلح بااسرائیل است وباادامه فعالیت ومبارزه براي آزادي زندانیان کاراعتصاب غذابه تدریج به سائرزندان هاي رژیم صهیونست کشیده خواهدشد .

دپاکستان دجمعیت العلماي اسلام منشي مولانا «شیراني» کندهارته ورسید

کندهار - غبرگولي ۲۹ :

له کندهارولایت څخه په رارسیدلوړپوټونوکي ویل کیږي څوموده وړاندي چي دپاکستان دجمعیت العلمامنشي محترم مولانا محمدخان شیراني افغانستان ته تللي ؤ ورمه ورځ دځمکي له لاري کندهارته ورسید .

په خبرکي ویل شوي چي محترم شیراني چي دطالبانو دوه نامتوغړي ملاربانی اومولوي احسان الله هم ورسره ملګري دي ، دي به په کندهارکي دطالبانودنورو مشرانو سره وګوري اودافغانستان درواني ستونزي په اړه به ورسره خبري وکړي .

اسنادفروش اسلحه به ایران افشاشد

لندن - ۲۹ جوزا :

حزب کارگربرتانیه به دنبال پیداشدن

ص (۲)

قابل توجه خوانندگان روزنامه شهادت

بنابر صعود روزافزون قیمت کاغذ دربازارهاي بین المللي وکاهش ارزش افغاني دربازار اسعار، پس ازین دربدل یك نسخه روزنامه شهادت (۲۰۰) افغاني معادل ۲ روپیه پاکستاني تأدیه خواهیدکرد.

عرض پوزش وتوجه

بنابرمعاذیرتخنیکي وترانسپورتي سه شماره روزنامه شهادت درروزهاي معین آن به نشرنرسید . امیدکه خوانندگان محترم مارامعذوربدارند و ان شاء الله روزنامه شهادت منبعد برروال معمول قبلي منتشرخواهدشد

دررابطه باقضیه افغانستان :

محمودمستیري بابطروس غالی ملاقات نمود

اسلام آباد - ۲۹ جوزا :

محمودمستیري باسرمنشي ملل متحد بطروس غالي دردفترآن سازمان ملاقات نمود.

درگزارش آمده است که محمودمستیري باسرمنشي سازمان ملل متحد راجع به وضع سیاسي افغانستان صحبت مفصلي نمود .

یك نطاق سازمان ملل متحد ضمن اعلان این خبر گفته است که دراین دیدار وگفتگومسایل صلح وآرامش درافغانستان ،انتقال قدرت وفعالیت هاي آینده صلح جویانه سازمان ملل درافغانستان مورد بحث وبررسي قرارگرفت .

سخن روز

يوازي د مطرحو ځواكونو ګډ دريځ دلانجې دحل ضمانت كيداي شي .

عبدالشافي

دجلال آباد په غونډه كي دربانې نه ګډون دا حقيقت بوځلې بيا روښانه كړه چې هغه دافغانستان دموجوده دردوونكي وضعې دحل او خاتمي له پاره هيڅ ډول مسئوليت نه احساسوي او نه غواړي چې دخبرو اترو اوتفاهم له لار په افغانستان كي يو قانوني حكومت منځ ته راشي.

تردې وروسته له ربانې نه دا تمه كول چې ګني هغه دافغانستان دموجوده لانجې دحل له پاره سنجيده اودخبرواترو له لارې حلول غواړي هسې ليونتوب اوځانته بې ځايه تسلي وركول دي ، كه ربانې په رښتيا توګه دي كار غوښتونكي واي نو دجلال اباد په غونډه كي به له ګډون نه ډډه نه واي كړي ، ځكه چې داغونډه دمشرقي ولاياتو دجهادي شورا له خوا پدي منظور جوړه شويده چې جهادي مشران اونور ذيدخله طرفونه پخپلو كي سره راغونډ اودافغانستان دلانجې د حل له پاره په ګډه كوششونه وكړي ، ليكن رباني اودهغه انډيوالانو پدي غونډه كي دشركت نه په داسې بهانو وراندي كولو سره ... دكړه چې هيڅ بنياد نلري .

دجلال اباد په غونډه كي دربانې نه ګډون ددې خبرې ثبوت وړاندې كوي چې هغه ټولو جهادي ګوندونو اوملت ته په ارزښت قايل نه دي اونه ددي ضرورت محسوسوي چې له هغوي سره دي خبرو اترو ته كښيني ،هغه افغانستان خپل ذاتي ميراث اوشخصي ملكيت ګڼي او نه غواړي چې بل څوك پدې كي شريك كړي، كه داسې نه وي نو بيا دجلال آباد په غونډه كي ته ګډون اوترينه باتيكاټ څه جواز لري ، پكار خو دا و چې رباني دجلال آباد د غونډي هركلي كړي واي او په پوره اخلاص اوخوشالي ګډون ته حاضر شوي واي ځكه چې دا غونډه دافغانستان دخاوري اوملت دبقاءاسلامتيا ، امن او هوسايني په خاطر جوړه شوي څو ، ټول مطرح اوذيدخل ارخونه په ګډه يوي نتيجې ته ورسيږي اوافغانستان لدې موجوده ناآرامي او بوګنوونكي وضعې او حالت نه بېرون راوباسي ، دا چې اوس رباني اودهغه انډيوالان له څه شرعي عذر پرته محض ماشومانه بهانو په وړاندي كولو سره د جلال آباد غونډي ته حاضر نه شول او بوځلي بې بيا ثابت كړ چې هغوي دافغانستان لانجه دخبرو اترو له لاري دحل پرځاي جنګ ته ترجيح وركوي نو په جلال اباد كي راغونډ ټولو مشرانو اواستازو ته پكار دي چې غونډه يې نتيجې پري نږدي ،ځكه چې په جلال اباد كي يې ددوي راغونډيدل ډيرنه چانس اود اهميت وردي بايد پخپلو كي سره خبري اتري جاري وساتي اوداسي يو ګډ دريځ دي خپل كړي چې رباني دخپل ناروا اقتدار نه دلاس آخستو له پاره مجبور اونورو جهادي ګوندونو شنه والي ته قايل شي

پخپلو كي منشتت تنظيمونه په يواځې ځان نشي كولي چې رباني دخپل ناروا عمل اوناجايز اقتدار نه لاس په سركړي،رباني هم همدا كوښښ كوي چې تنظيمونه يو له بل نه جدا او پدي ترتيب خلع سلاح اوخلع قدرت كاندي ، حقيقت دادي چې دربانې اداره دټولو تنظيمونو خشمول غواړي تر څو دراتلونكي له پاره دده په وړاندي ميدان صفا اومطلق العنان حاكم وي .

ددريو كلو په اوږدو كي رباني دپرتنظيمونه په همدې شكل كمزوري كړي او افراد بې د رشوت له لاري ترينه جلا اويو دبل سره بې جنګولي وي . رباني اوس هم همداكوښښ كوي چې په مجموعي توګه دټولو جهادي تنظيمونو سره سوله اومفاهمت ونكړي بلكي دخپلي ناروا ګټي په خاطر كوښښ كوي چې يوځو ګوندونه له ځان سره ملګري اونورو سره په جنګ كي شريك كړي، پدي نږدې ورځوكي دجنرال رشيد دوستم سره په جداګانه توګه په ماسكو اوازبكستان كي ليدنه او له ځان سره دملګري كولو هلي ځلي دهمدې خبري ثبوت وراندي كوي ، خو په جلال اباد كي چې دټولو ګوندونو مشران اواستازي ګډون لري رباني له شركت نه پدي بهانه ډډه كوي چې دلته د جنرال دوستم استازي ګډون لري اوموږ هغه په رسميت نه پيژنو ،همداراز دطالبانو په ګډون هم اعتراض كوي اووايي چې موږ دطالب په نوم كوم ګوند نه پيژنو . خو په جلاتوګه دطالبانو له تحريك سره اوربند اعلانوي او ورسره دخبرو اترو غوښتنه كوي، درباني له دغه دوه مخيز عمل نه په څرګنده توګه معلوميږي چې هغه په افغانستان كي دټولو جهادي ګوند ونو په خوښه او رضا حكومت يوي عبوري اداري ته سپارل نه غواړي مشرانو ته ددي اختيار وركوي چې دبواسلامي حكومت دجوړولو له پاره خپل رول ولوبوي بلكي دهغه ټول كوښښ دادي چې په هر ترتيب وي داټول ګوندونه له سياسي اونظامي ډګر نه بېرون وباسي او هرڅه پخپل لاس كي واخلي ،كه داسې نه وي نو بيا دجلال اباد په غونډه كي دنه ګډون څه عوامل كيداي شي . كه رباني دزړه له تل نه داقتدار انتقال اويه افغانستان كي ديوسوچه اسلامي حكومت دقيام غوښتونكي واي نو دجلال اباد غونډه دي مقصدته درسيدوله پاره ډيره ښه مرجع ده اوله همدغې غونډې له لارې ددې قوي امكان شته چې يوي مثبتي نتيجې ته بې ورسيږي اودافغانستان لانجه په پرامنه توګه حل شي داچې رباني تقريباً دلسومياشتو راهيسې په ناروا توګه داقتدار په ګدي سرېښ شوي او نه غواړي دجهادي مشرانو په صلامشوره اقتدار عبوري شورا ته وسپاري په ښكاره توګه دټولو جهادي تنظيمونو خلاف دجنګ اعلان دي ،پدي لړ كې جهادي مشران نور بايد دسستي اومصلحت پسندي ښكار نشي له رباني سره د جلا جلا خبرو پرځاي دټولو مشرانو په ګډون دخبرواترولاره خپله كړي ځكه چې پدي كي دټولو ګوندونو عزت اووقار هم پاتي كيږي او رباني هم پخپل شوم غرض كي نشي كامبابيداي ، او پدې مجبور بزي چې اقتدار موقتي شوراته وسپاري.

د رباني ديقا چانس دجهادي مشرانو افتراق اوديو دريځ په نشته والي كي مضمر دي هغه تر اسوه پوري بواځې پدي وجه پخپل ځاي پاتي شويدي چې دهغه په خلاف يو ګډ سنګر اوموقف ندي نيول شوي اوهرتنظيم ځانته ځانته لاره نيولي ، ددي له پاره چې رباني دحق په وړاندي تسليم شي اودجهادي مشرانو په حقوق اوشته والي قايل شي پكار دي چې په جلال اباد كي راغونډ ټولو جهادي تنظيمونو مشران اواستازي پخپلوكي سره راجرګه اودرباني په خلاف يومشترك دريځ اوسنګر اعلان كړي ترڅو د ګډ فشار له لاري رباني دخپل زور ګيري نه لاس په سر او اقتدار موقتي شورا ته وسپاري . له ټولو جهادي مشرانو څخه داسلام اوملت غوښتنه همدا ده چې داسلامي حكومت دقيام اودافغانستان دارامي په خاطر همدا نن اتفاق او دوروولي لاسونه وركړي اودرباني غير قانوني اوظالم حكومت په خلاف خپل قوتونه منظم او بسيجكړي ځكه چې بواځې له همدغسې لاري كيداي شي چې ديونيم مليونو شهيدانو ارمانونه پوره اوافغانستان دامن ځانګو وګرځي.

دكابل اداري دوه مخيزاودوه اړخيزسياست

انس

دكابل په ائتلافي اداره كي ډول ډول عناصرراټول شوي دي اوهريوبې دشطرنج دلوبغاړوپه څيرخپل چال پرمخ بيايي ، وايي يوڅه اوكوي بل څه، اوبيايي په دومره جرئت سره كوي ته به وايي چې ګوندي ټول ملت ددوي پركړو ورو قانع دي اوياخوبالكل دهغوي په دوو جالوكي پرسيريدونه پوهيږي .

په داوږه موده كي كه ددغي اداري دلوبغاړو كړه وړه ترنظره تيرګړو، نو څرګنده به شي چې له هغوي سره يوازي يومعيارا وهدف پاتي دي . او هغه په قدرت كي پاتي كيدل دي، نورټول معيارونه ،اصول اوموازين بې له لاسه وركړي دي، په افغانستان كي له مطرحو ځواكونو سره بې چې كومه كړنلاره خپله كړي دهغوي دومخيزسياست اودوه مخي ترې له ورايه څرګنده ده .

۱- څوموده دمخه چې كله طالبان دكابل دروازوته راورسيدل ائتلافي اداري دحزب وحدت اسلامي پرخلاف په سختوعملياتولاس پوري كړ، دهمدغوشديدوجنګونو په نتيجه كي دحزب وحدت قهرمان مشر دطالبانوپه وسيله ووژل شواوپه كابل كي دحزب وحدت قوتونه خواره واره شول. دمرحوم مزاري جسددغزني له ولايت نه دهغه زرونوپلويانوپراوږوترمزاره ورساوه ، اوبيا دهمدغه ګونداجرائيه شوري غړيوپه موقت ډول دګوندمشي درئيس يالميريه توګه وټاكه .

دوه هفتې دمخه چې په جلال آباد كي دجهادي تنظيمونوترمنځ دخبرواترولپاره دائتلافي اداري كوم هيئت دنورالله وعماد و په مشري راغلي و، په غونډه كي دجهادي تنظيمونوګډون په باب ښاغلي عماد وويل چې موږاكبري چې دوحدت له ګوندنه دخو منشعبوكسانومشري پرغاړه لري دوحدت دګوندوارث ګڼو،ل حزب وحدت په رسميت نه پيژنو.خوپه همدي وختونوكي څېري منابعوويل وهغه هيئت چې دائتلافي اداري رئيس رباني باميانوولايت ته دحزب وحدت دافرادو اوګوند دمشرانوديخولاكولوله پاره ليږلي وچې بيرته كابل ته راشي اوپه خپلوسيموكي ميشت شي، ناكام راستون شو، تردي وروسته بيا دائتلافي اداري دوه تنولوبغاړو(يونس قانوني، انجنيراحمدشاه احمدزي) وويل چې موږاكبري دحزب وحدت وارث ګڼو.

۲- همدغه ډول څه موده دمخه دكابل اداري دهند اوروس په منځګړيتوب له جنرال دوستم سره خبري اتري پيل كړي او دوه ځلي بې خپل هيئتونه دخبرواتروله پاره ماسكوته ولېږل ،خوكله چې دغه خبري اتري ناكام شوي نوبې دجنبش پرخلاف په سالنګونو،كندوز، اوسمنګانو كي په جګړولاس پوري كړ، اوبيابې دجنبش پرخلاف په تبليغاتولاس پوري كړ، له يوي خوايي وويل چې دازبكستان حكومت دجنبش له پاره زرګون افغاني نوټونه چاپوي په دي ډول بې دوه كارونه وكړل يوبې دزرګون نوټونواهميت اونرخ راكم كړچې له ملت سره ستره جفاده اوبل بې دهند چاپ پنځه زريزاولس زريزافغاني نوټونوله پاره بازارپيداكړ.

همدارنګه په جلال آبادكي دائتلافي اداري دهيئت مشروويل چې موږدشمال دجنبش په نامه كوم تنظيم په رسميت نه پيژنو ، حال داچې همدغه جنبش تقريباً يونيم كال دمخه دائتلافي اداري غړي او په لومړيو وختونوكي پركابل دنظارشوري دواكمني اصلي لامل و، رباني دخپل فرمان په وسيله په رسميت پيژندلي اودهغوي په اصطلاح په اسلامي دولت كي بې ونده لرله .

۳ - په جلال اباد كي دائتلافي اداري دهيئت مشر ښاغلي عماد فرمايلي وو، چې دطالبانو تحريك په رسميت نه پيژني ، خوجناب عمادلاكابل ته رسيدلي نه و، چې دپاكستان دجمعيت علماء دګوندپه منځګړيتوب بې له طالبانوسره لس ورځني اوربند اعلان كړ ، ديوبل بنديان بې خوشي كړل اودنورو خبرو اتروكولو عزم بې څرګند كړ .

٤- داتحاد اسلامي ګوند چې دائتلافي اداري له غړونه دي، ددغه ګوندمشران په خپل دوه مخيزسياست كي ساري نه لري اوهغه داچې يوي خوانه وايي موږداسلامي دولت په تشكل كي دكمونستانو اوهرډول چپي عناصرودګډون مخالف يو، خوبيا دهماغي اداري دغړيتوب حلقه پرغاړه لري چې په كابل كي خولاڅه چې په پيښوركي پراته كمونستان اوس هم په كي معاشونه لري اوپرخپلو ماموريتونوبرحال دي .

ددغه ګوند مرستيال انجنيراحمد شاه احمدزي څوورځي دمخه په جلال آباد كي په يوه راديويي مركه كي وويل، چې موږدافغانستان په چاروكي دروسانومنځګړيتوب نه شومنلي، روسان زموږ دهيواداواسلام دښمنان دي ، حال داچې همدغه روسان څوورځي وړاندي دجنبش اوائتلافي اداري ترمنځ دخبرواترومنځګړي اوكوريانه وو همداډول ددغه ګوند مسوولين پرخوله دكمونستانومخالفت هم كوي اودادئيري چهارشنبي اوپنجشنبي په ورځوكي په پغمان كي دجنرال فهيم اوجنرال باباجان دځواكونو له خوادقوماندان عبدالمنان دهغه ديلارځلورو وروڼواودوه سوه تنويي ګناه پغمانيانووژنه ګوندي بل چاكړي ؟

په تيرو تقريباً دوه مياشتو له پاسه دري كلونكي دائتلافي اداري لوبغاړو هڅه كړي چې په هرډول ،دوكه ، فريب، چالبازيو، خپلسريواو خپلچاريوكولاي شي ، بايد په قدرت كي پاته شي ، كه ملت مري، كه قومي ژبني ،لوريز، مذهبي اوتنظيمي تعصبات په كي لګه داوريه څير خپريږي دجهاد ،اسلام، انقلاب ، مجاهداومهاجروويارليونومونواوورپالبوكار نامو ته زيان رسيږي ، كه دجهاد اوهجرت دسختوورځودوستان خوابدي كيږي، كه دمجاهدينوپه نامه حكومت دروسانودمزدوروحكومتونوپه څير لاسپوځي ګڼل كيږي ، ددوي بې هيڅ پروانه كوي يوازي يوه هيله لري اوهغه داچې بايد په واك كي پاته شي .

دمسئلي حل، جګړه كه مفاهمه ؟!

اكبري

داچې د رباني اداره دخپلو ګڼو مخالفينو له مخالفتو نو سره لاس ږوګريوان ده نونشي كولاي چې دټولو سره لكه څنګه چې دي او انډيوالان بې غواړي خپل سرتنبګي ته دوام وركړي نو بې په يو لړ اقداماتو لاس پوري كړي خوداچې دغه اقدامات اوخبروته كيناستل دكوم مجبوريت لا مل دي اوكه ددي ناستي ونر مبنت ډپردي شاته نور عوامل موجود دي .

خودځينو سياسي څېړونكو له نظره له طالبانو سره دربانې داداري ناسته اومفاهمه له دوو حالاتو څخه خالي نه ښكاري لومړي دا چې رباني دخپلو زياتو مخالفينو دپراخې جبهې له جوړيدو څخه ويره لري اودوهم دا چې ځينو بهرنيو فشارو اودوستانو ته منفي ځواب ويلي دځان اوقدرت له پاره خطرګڼي ، خودا هم هېرول نه دي پكارچې تردې دمخه هم دائتلافي اداري مشر داسې ډيرتعهدات او پريكړې چې ترټولو مهمه يې په بيت الله كي دميثاق ټينګ تعهد اوفيصله وه . نه يې ورته په كوم درانه نظر وكتل اونه يې دهغې كوم التزام وكړ ،نودتيرو تعهداتو او پريكړو دپادونو په سلسله كي اوس هم داسې اټكل كيږي چې د ائتلافي اداري مشر به له خپل عادت سره سم دطالبانو سره داوربندنقض هم وكړي . كه څه هم ځينې خلك به داسي فكر كوي چې ګوندي دكابل اداره غواړي پرته كشاله دخبرو اتروامفاهمي له لاري حل كړي ، خو پدي هكله خبره بالعكس او له حقيقت څخه ليري بريښي او هغه دا چې له كومې

ورځې څخه دربانې دجمهوري دوري موده پاي ته ورسيده نو لازمه خوداوه چې په همغه وخت كي دهغه تعهد او پريكړې له مخې چې دټولو جهادي تنظيمونو لخوا په متفق ډول فيصله اولاسليك شوي وه قدرت بې دهغې لايحې اواصولو له مخې انتقال كړي واي ، ولي دائتلافي اداري مشر ښاغلي رباني په دي لاره كي دډول ډول بهانو اوختلانو دراپورته كولو هڅې كولي او وروسره وروسره به بې داخبره په ډير زور اوشدت سره زمزمه كوله چې دقدرت دانتقال په صورت كي دقدرت خلاءامنځته كيږي ،ښاغلي رباني په هغه وخت كي دكابل ښار په څو محدودو ناحيو دواكمني لرلو پر اساس پرټول هيواد دحاكميت تصور كاوه ، پداسي حال كي چې په همدغه وخت كي په هيواد كي دقدرت دخلا فضا حاكمه وه خو خير له بهانو او وعده خلافيو پرته پر واك پاندي دپاته كيدو هغه ته بل هيڅ چانس اوفرصت په لاس ورتلونكي ته وتو مجبورا يې داسي كولو ته ملاتړلي وه.خو سړي نه پوهيږي چې څنګه پرونيو مجبوريتونو دښاغلي رباني داداري تګلاري ته داسې رنګ وركړ چې پر هغه څه اقرار كوي چې دوه دري ورځي مخكي ترې انكار كاوه

خو كه دائتلافي اداري مشر په دي پوهيدلي وي چې كشالي اوستونزي دجګړو له لاري نهلكي دمفاهمي اوخبرو اترو له لاري حل كيداي شي.

نو پدي رابطه خوله دري كلو نو راهيسي داخلي اوبهرنيو دوستانو اوخواخوږو اوهم رسمي اوغير رسمي هيئتونو متدي رامندي ووهلي ولي ترينه پوره په زړه پوري اوتولو ته دمنلو وړ نتايج ترې له لاسه نشول او هغه له دي امله چې دائتلافي اداري انډيوالان په هيڅ صورت اوحالت كي دي ته نه چمتو اونه په شي چې واك بې له لاسه ووځي اوبيا دمنل شويو بين المللي اصولو په رڼا كي دملت رايي اوحقوقو ته ددرناوي سرټيټ كړي ،ځكه پداسي كولو سره بې له واك څخه د ګوښه كيدو خوب لاپخوا ليدلي و نو ځكه بې دليدلي خوب سرچپه تعبير ته ترجيح وركړه اودالالچ دي حد ته ورسيد چې خاوره اوملت اوهم دملت څوارلس كلنه سرېنه مجاهده بې دنړيوالي ګوتنيونې ښكارشوه .

په لومړيو كي خورباني له طالبانو سره دخبرو اترو پر ځاي دهغوي پرمواضعو او مورچلو بمباري ته ترجيح او خبرو ته كښيناستل بې دځان ملي اوبين المللي سپكاوي ګاڼه خو اوس ديته چمتو شوي چې له هغوي سره په ملي اوبين المللي كچ خبرو اترو اووروغې جوړي ته كښيني اولامل بې دادي چې له ټولو ځواكمنوړولو سره په يو مخيزه توګه ددښمني پېړوله دريدل ائتلافي اداري ته په اوبو كي دخپلي ځوي ښكاريدل دي.

موږ، وايو چې رباني ته ښايي چې له ټولو مطرحو ځواكمنو ولو سره دخبرو اترو په تغر كښيني .

داسلام ،خاوري ځورول شوي مجاهد ملت داهدافو اوارمانو سره سم داصولو منلو ته غاړه كيږدي څو روانه لانجه دداخلي اويهرنيو دوستانو اوهم پخپله دافغانانو لخوا حل وفصل شي ځكه چې لانجې او مسايل دجګړو له لاري نه بلكي دخبرو اومفاهمي له لاري حل كيداي شي.

ادارهٔ كابل و آتش بس باطالبان

ضياءالحق ضيا

به تاريخ (۱۹) جوزاي سال جاري درنتيجه تلاش هاي مولانا محمد خان شيراني رئيس هيئت جمعيت علماي پاكستان آتش بس ميان گروه طالبان واداره كابل براي ده روز نافذ گرديد. اين آتش بس كه درنتيجه مذاكرات غيرمستقيم صورت گرفت، درارتباط مبادله اسراي يكديگرو بازگذاشتن راه ها بر روي ترافيك نيز توافق به عمل آمد.

حال سوال دراين جاست كه هدف از اين آتش بس چيست ؟ آيا دوام خواهد كرد ياخير ؟

تجربه نشان داده هرآتش بسي كه ميان نيروهاي متحارب صورت گرفته ، ديده شده كه نتيجه اش آمادگي براي جنگ ديگري بوده است . جنگ هاي سه سال اخير وآتش بس هاي منضم برآن ، جز جنگ هاي خونين وتباه كن ، چه چيز ديگري ميتواند محاسبه شود.

ما نمي گوييم كه بين نيروهاي درگير ومتحارب آتش بس صورت نگيرد.

بلكه‌بگوييم كه چنين آتش بس ها نمي تواند داعيه خير شود .خواننده عزيزا خود قضاوت نمايد.

وقتي اداره كابل باطالبان درچندين ولايت درگيري داشت ،از سوي ديگر بخاطر بقاي قدرت خويش با جنبش درمذاكره شد چرا در آنزمان صداي آتش بس بگوش نميرسيد ؟ حتي اسماعيل خان والي هرات به طالبان اينگونه چلنج ميداد:

با طالبان تاآنزمان مي جنگيم كه تهرا دولت را به رسميت بشناسند.

درحال حاضر كه اداره كابل در شمال كشور در مربوطات خنجان وسالنگ بانيروهاي شوراي همآهنگي مصروف جنگ ميباشد مي خواهد از آتش بسي كه ميان طالبان صورت گرفته سوء استفاده نموده به اين ترتيب در يك طرف جبهه مصروف جنگ باشد و قواي خويش رابه يك سمت سوق دهد.

اين راگويند سياست جنگجويانه ؛ با يك جناح آتش بس وباجناح ديگر مسابقه آتش وخون! به صراحت ميتوان گفت كه آتش بس اداره كابل با طالبان بخاطري صورت گرفته كه اهداف نظامي آنها بر آورده شود ، نه بخاطر استقرارصلح وامنيت ويا جلوگيري ازخون وآتش .

اگر بگوئيم كه از اين آتش بس بوي خون مي آيد، شايد بيمورد نباشد . بخاطر اينكه هرآتش بس اداره كابل به يك جنگ ديگري منجر شده است.

ولي اگر بخاطر استقرار صلح وجلوگيري از خونريزي وتباهي كشور باشد ، بايد به واقعيت ها تن داده شده مصالح ملي كشورما درنظر گرفته شود.

باهمجناح هاي درگير وگروه هايي كه در قضيه كشور ما مطرح هستند تفاهم صورت گيرد ولي اگر چنين كاري صورت نگيرد ، هيچ وقت به چنين آتش بس هاي نمايشي وياجعلي نميتوان باوركرد .

دكابل اداري انحصاري قدرت غوښتل ،دځان اوملت له پاره تباهي

س - ق كندزي

كوم وخت چې افغان مجاهد ملت ، د دين او خاوري د ښمنانو (روسانو) ددي مسلمان ملت دعقيدي دپايالواو دسياسي استقلال له منځه وړلو په هيله زموږ په پاك او سپيڅلي حريم يرغل وكړ او ، افغاني غرور، پت ، ننګ ، شجاعت ، بالخصوص زموږ د دينداړو اوپر خداي مينو افغانانو اسلامي هويت او تشخص ته په سپكه سترګه وكتل نو د افغاني اسلامي خاوري رښتينوواړثانوپرته له تبعيض ، تعصب ، سمت او نژاد پرستي څخه دهيواد په هر ګوټ كي هستوګن ، د توحيد په كفر لړزونكي غږ د پاځون او قيام لاره خپله او په تشو لاسويي د شرق د سوپر طاقت دطيارو ، ټانكونو ، دشلم قرن دراز راز مدرنو درنور سلو د مقابلې لپاره ټټري سپر، دعملي جهاد سنګر ته را وځغا ستل او يو ځل بيابي دانګريزانو ،

پخواني يرغلونه ، د سر، اولاد او شتمنيو په قرباني كولو تازه كړل چې په نتيجه كي د افغانانو دتوحيد دليكو دايمان په قوت ، دهيوالي په بركت انګريزان داسې تار ومار كړل چې د شهامتونو او ميړانو يا داشتونه ، د جنګريز په ميدان كي دقرباني وركولو شهكاري يې اوس هم دنړي دملكونو په ارشيفونو كي ژوندي پراته دي .

كله چې روسانو انګريزانو سره ګډ افغانانو د قرباني اوټكري هيري او ناديده وګڼلي داخستل شوو ځوتنو بېرخو په ښكاره نغوته ، په ډير غرور او تكبر، په عصري وسلومتكي ، د افغانانو دتسليمدو په خوب وخيال بين المللي او دګاوندېتوب ټول نور مونه او تعهدات تر پښو لاندې او زموږ په ټاټوبي يې دهوا او ځمكي له لارې راتوي شول او غوښتل يې چې دمنځني اسيا د ملكونو په څير افغانستان هم دخپلو پليدو ارزوګانو او تشو ښكار كړي .

خو دا چې په افغانستان كي او سيدونكي وروڼه مليتونه كه څه هم پښتون دي كه تاجك ، ازبك دي كه تركمن ، د يو غيرتي مسلمان افغان په دايره كي د توحيد تر بيرغ لاندې دګران افغانستان دازادي ، په هيواد كي د اسلامي نظام دقيام په خاطر ، په يو غږ او يواواز را وچت ، دمسلحانه جهاد سنګر تود او دمسلمانو شاځلو په تنه كي د شهادت غوښتني وينوجريان ځپاند شو چې دهمدغو جذباتو په طغيان ، دايمان او عقيدي په وسله افغاني هويت او تشخص بيرته ژوندي او حذف شوي استقلال لاس ته راولو چې د مسلمان ځوان نسل د قرباني په نتيجه كي يو ځلي بيا سره دسيالي په كتار كي خوندي پاتي شوو او د مجاهدينو دقرباني په نتيجه كي د ابدالي دپكري شمله نيغه ، دغزنوي دتوري شرنګ ، دملالي دځنويت ، دمير

مسجدي ، اكبر خان ، اوايوب خان ، د وطن پالني او ملت روژني كار نامي هم رښتيا شوي .

خو په ډير افسوس سره داهم څرګنده شوه چې د روسي لښكر و تر تښتېد لواوماتې وروسته داسي څېري بربنډي شوي چې دجهاد په دوران كي موږي د يو مجاهد وطن پال ، ملت جوړونكي ، ددين دښمنانو سره نه يو ځلا كيدونكي مجاهد ګمان درلود مګر داسلامي انقلاب په برياليتوب سره سم بې څېره بدله ، دتوحيد ليكي بې په سمتي ، ژبني او قومي نوموتو د خپل شوم هدف لپاره تار ومار او ملت بې په كورنۍ جګړه كي ښكيل كړ چې پدي توګه د افغان واحد ملت سپيڅلي قوه (زلميان) بې په بې هدفه جګړه نابود او مړه كړل ، وطن بې وران، دملت دشهادتونو ، شهامتونو افتخارات بې په سيند لاهو و ، د مجاهدينو د قرباني ستر او مقدس نوم بې د نړيوالو دملنډو ، او هغه څه بې وكړل كوم چې د اجيراتو او اجنټانو د نامه سره ښايي . كه څه هم مجاهدينو دجهاد كارنامې دلوي خداي (ج) په نزد ژوندي او روښانه دي او دخلكو په ملند ونه ضايع كيږي . كه هر څوك هر څه وايي مګر مجاهدين به د فساد او ظلم په ضد . دالله په توكل خپله مبارزه تانده ساتي تر څو د جهاد اصلي مفهوم پر ځاي شي ، خو نفاق اچوونكو ، جاه طلبو ، قدرت پسند و نه چې د ملت

او قوم په تباهي كي اقتدار غواړي ، بيا هم په ډاګه وايو چې د دري كلونو په جګړه كي مو پرته له وراني مرګ، ژوبلي بل څه تر لاسه نكړاي شول ، دنفاق په اوركي دي دا برياليۍ ځوريدلي اوسولي ته تږي ملت بيا وسبزه خو درښتيني قدرت خاوندان نه شوي ، پريږدي چې دغه مسلمان مجاهدين ، تاجك ، تركمن ، ازبك ، او پښتانه وروڼه مليتونه د پخوا په څير سره ورونه شي تر څو د ورورۍ په فضا كي د خپلي

خوښې ګډ اسلام حكومت جوړ او دسولې په ځپو كي خپل ژوند ته ادامه وركړي .

ملت بايد پوه شي چې د ځان غوښتني او قدرت غوښتني لپاره چې څوك خپل قوم دنورومسلمانو مليتونو سره جنګوي بېله دي چې د خپل قوم لپاره ابدي دښمني ، بربادي نا ارامي زيږوي نور څه په ترلاسه نكړي او داهم ګرد ملت بايد په ياد ولري چې هر جاه طلب ، او اوړلګونكي چې د قام په وينوكي قدرت او عزت په يو نوم او بل نوم په قومي جګړه كي غواړي په حقيقت كي دځان ، قام او ملت له تباهي څخه بله ګټه نلري . نو راځي ، داسلامي مسؤليت د احساس په اساس تريكني پريږدي ، نور نړيوال په ځانونو مه خندوي دواحد مسلمان قوم په شكل كي واحد مسلمان افغانستان جوړ او لسوونكو دلسون په وړاندي خند او دسترګو اعزي شي .

اسنادفروش اسلحه...

اسنادفروش غيرقانوني اسلحه به ايران كه يك شركت برتانيايي متهم به آن است ، خواهان تحقيقات مستقلي درين باره شده است.

اين اسناد كه دوسال قبل فاش شده بود دروزارت دفاع انگلستان به دست آمده است . وزيرتجارت برتانيه هفته گذشته درپارلمان آن كشورگفته بودكه سلاح هاي خاص نيروي دريايي ساخت شركت برتانيايي بيمااحتمالاً دردهه هشتاد ازطريق سنگاپوربه ايران برده شده بود .

مبارزين چيچن...

درين تماس تيلفوني آمده است روسيه درصورتي كه مبارزين همه گروگان هاي شان رارهاسازند آتش بس رادرچيچن اعلان ومذاكرات صلح راازسرگيرند ولي مبارزين چيچن حدود سه صدتن رابه حيث تضمين امنيتي نگهميدارند .

مبارزين چيچن كه روزچهارشنبه گذشته بربوروكس حمله بردند تاكنون گروگان هاي خودرا نگهداشته اند ويورش قواي دولتي روسيه برشفاخانه‌جابه منظورآزادساختن گروگان هاتاكنون ناكام بوده است وشفاخانه ها درحلقه محاصره قواي روسي ميباشد.

درولايت ...

ادامه داشته ودرنتيجه اين نبرد هاتلفات وخسارات زيادي به جنگجويان اداره كابل وارد گرديده است .

دجهاد د اتلانو یاد

شهید تحصیلدار

شهید تحصیلدار د حاجي گل رحمن ځوي له نن نه ۲۸ کاله وړاندې د ننگرهار ولایت د شینواري دلوي ولسوالي دگلاهي په کلي کې زیږلي و نو موږي شهید چه کله دځواني پړاو پښه کیښوده دکفر ،الحاد او فساد په مقابل کې دجهاد او شهادت د مورچل لاره ونیوه دپرک مزدور رژیم کې د گلاهي په کلي دروسي وحشي فوځ سره په یوه مخامخ نښته کې اسیر شو . چه بیا په جلال آباد کې د کمونستانو له خوا د شپږ کاله قید او شکنجو وروسته خلاص شو او بیا دحزب اسلامي افغانستان دجهاد په پوهنتون کې شامل شو خپل تحصیلات یې د دریم صنف پورې سرته ورسول کله چې په کابل کښې د نجیب مزدور رژیم نسکورشو نوموړي غازي دحزب اسلامي دویا زمنو غازیانو سره اوږه په اوږه دکابل دجنوب شرق په سنگرونو کښې مصروف و په اخیر کې دکارت نو په سیمه کښې د ۱۳۷۱ کال دحوت د میاشتي په ۲۵ نیټه چې د روژي مبارکي میاشتي

(۲۷) سره سمون خوري د کابل دانتلاقي اداري له خوا دشهادت لوړ مقام ته و رسید .

روح ښاد او یادي همیشه یاد .

جهاد فرض عین است

فرستنده: عتیق‌الله عرفان

اي کسانیکه در راه خدا وبنام او راه هجرت را در پیش گرفتید ! اي کسانیکه بخاطر کسب رضاي خداوند جهاد کردید ! اي کسانیکه بخاطر باري رساندن برادران عقیدتي تان وبخاطرعبادت خداوند وبه هدف تحقق مرام جهاد کمر همت بستید ! اي کسانیکه لذت هاي دنیا زن وفرزند و خانواده ها یتان را بخاطر کسب جنت وزندگي در جنت فردوس رها کردید .

نیك بدانید که خداوند در کلام مجید ش اینطور فرموده است" توبه —— ٤١

برآیید سبکبار وسنگین بارو جهاد کنید بامال ونفس تان در راه خدا ، این براي شما بهتر است اگر مي دانید .

روایت شده است که سعید بن المسیب که یك مرد پخته سال بود به جهاد بر آمد ، مریض هم بود ویك چشم خود را از دست داده بود . این مرد پیشو اي تابعین بروي زمین به حساب مي آید . برایش گفته شد: تو نا جوري ، در پاسخ گفت : خداوند امر کرده که جور ونا جور هر دو باید به جهاد بروند ، اگر من جنگیده نتوانم بر سپاهي لشکر اسلام مي افزایم که وسیله یي براي ترس دشمن است واز جایی هم محافظ کالاها بوده مي توانم .یکي از تابعین مقداد بن اسود را دید در حالیکه بیش از حد چاق شده بود ، برایش گفت : امسال از رفتن به جهاد صرف نظر نمیکني؟

در پاسخ گفت : سوره، بحوث اجازه نمیدهد.

سوره، توبه را سوره بحوث مي گفتند ، زیرا این سو ره از صفات منافقین ومراتب ومدارج افراد در جامعه بحث میکند . این سخنان زماني گفته میشود که جهاد فرض کفائي است ، زیرا جهاد در زمان تابعین فرض کفائي بود ، چه در آن عصر وزمان سر زمین هاي جدیدي را فتح میکردند وهتك حرمت هاي زنان مسلمان مطرح نبود ، خون هاي کودکا مسلمان نمي ریخت ودرخیمه هاي شب آبروي زنان مسلمان پایمال نمیشد، مقدسات مورد اهانت قرار نمیگرفت ، مال ودارایي مردم چور وغارت نمیشد وتعصبات لساني در آن بچشم نمي آمد ، ولي امروز همه چیز هایي را که ذکر کردیم در دولت فعلي یا اداره کابل وجود دارد ، مردم به گونه گون صورت مورد تجاوز قرار میگیرند .

ابن تیمیه در مجموعه فتاوي جلد ۳۸ صفحه ۳۵۸ مي گوید : وقتي دشمن در صدد حمله وهجوم بر مسلمانان بر آید ، دفع او فرض ذمه تمام مسلمانان است وتنها به کسانیکه مورد تجاوز قرار گرفته اند محدود نمیشود ، بلکه این حکم شامل حال همه است واین در صورتي است که دشمن اراده حمله را کند.

لقمانی نصیحتونه

